مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۲/۰۵

# د شعر کریډیټ

"مرنے کی دعائیں کیوں مانگوں جینے کی تمنا کون کرے"

معین احسن جذبي چې د (2005-1912) کلونو ترمنځ يې ژوند وکړ. پورتنۍ مسره يې د هغه مشهور غزل ده، چې دوه ځله په هندي او پاکستاني فلمونو کې سندره شو، مګر يو ځل يې هم کریډیټ ده ته نه دي ورکړل شوي.

کشور کمار د ۱۹۴۸م کال په (ضدي) فلم کې چې شاهد لطيف جوړ کړی او د هغه ميرمنې عصمت چعقتای يې کيسه ليکلې وه؛ همدا غزل ووايه، خو ناروا دا وه چې په شنه زور له غزل نه مطلع ليرې شوې وه.

د ۱۹۷۰م کال په (چاند سورج) پاکستاني فلم کې دا غزل بيا د حبيب ولي محمد له مرئ سندره او بيخي زيات مشهور شو. دا ځل ظلم دا و چې د غزل له مطلع نه د شاعر تخلص ليرې شوی و.

احسن جذبي چې د علي ګړه په مسلم يونيورستي کې د اردو ادب پروفيسر و. يو زده کوونکي په يادابنت ليک ترې د همدې غزل مطلع ليکل وغوښتل. جذبي په موسکا ځواب ورکړ:

«دا نو کله زما غزل دی؟!»

ژباړه

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ